



# د لنین په اړه!



**لیکوال: ژ. ستالین**

**پښتو ژباړه: ل . پ . پ**

د لنین په اړه!
لیکوال: ژ. ستالین
پښتو ژباړه: ل . پ . پ

Vladimir Ilyich Ulyanov Lenin



**په دې رساله کې موجودې درې مقالې:**

ـ د لنین په اړه، د کرملین د محصلینو په شپنۍ ناسته کې وینا

ـ د لنین د مړینې په مناسبت

ـ لنین، د روسیې د کمونست گوند لارښود او مشر

# د لنين په اړه

## ليکوال: ژ. ستالين

## پښتو ژباړه: ل . پ . پ

## په دې رساله کې موجودې درې مقالې:

- د لنين په اړه، د کرملين د محصلينو په شپنۍ ناسته کې وينا
- لنين، د روسيې د کمونست گوند لارښود او مشر
- د لنين د مړيني په مناسبت

# د لنین په اړه

## د کرملین د محصلینو په شپنۍ ناسته کې وینا
## د ۱۹۲۴ کال د جنورۍ ۲۸ نېټه

ملگرو! ما ته یې وویل چې تاسو دلته د لنین د یاد لپاره شپنۍ ناسته جوړه کړې ده او زه هم د یوه ویناوال په توگه دغي شپنۍ ناستې ته رابلل شوی یم. زه تصورکوم، چې د لنین د فعالیتونو په اړه د یو گزارش وړاندې کولو ته به اړتیا نه وي. زما په اند ښه ده، چې د یو لړ هغو حقایقو په خبرتیا سره، چې د یو انسان او یو سیاسي سړي په توگه د لنین د ځینو خصوصیاتو ته ځانگړې دي؛ د هغو په سپړلو بسنه وشي. ښایي د دغه حقایقو ترمنځ یو داخلي ارتباط هم موجود نه وي، خو د دې لپاره چې د لنین په اړه یو کُلي تصور لاسته راشي، دغه چاره د پرېکنده اهمیت درلودونکي کېدلای نه شي. په هر حال زه په دې اړه له هغه څه څخه

زیات کوم څه،چې مخکې مې وعده وکړه نشم کولای چې تاسو ته ووایم.

# غرنی باز

زه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۰۳ کال کې له لنین سره آشنا شوم. سمه ده چې دا آشنایي حضوري نه وه بلکه غیابي او د لیک له لارې وه. خو په ما کې د هغې تاثیر دومره ژور ؤ چې په گوند کې د کار کولو په ټوله موده کې د هغې تر تاثیر لاندې وم. هغه مهال زه د سایبریا په تبعید ځای کې وم. د لنین له انقلابي فعالیتونو سره آشنایئ د نویمو کلونو له وروستیو او په ځانگړي توگه له ۱۹۰۱ کال وروسته، یعنې د ((ایسکرا))[۸] له خپرولو وروسته په دې زما ایمان ټینگ کړ چې د لنین په وجود کې موږ له یوه فوق العاده شخصیت سره سروکار لرو. هغه مهال دی زما په نظر کې د گوند یو عادي رهبر نه ؤ بلکه د هغه ریښتینئ جوړونکئ ؤ، ځکه یوازې دی ؤ چې زموږ د گوند په داخلي ماهیت او سملاسي اړتیاوؤ پوه شوی وؤ. کله به چې ما دی د زموږ د گوند له

نورو رهبرانو ســره پرتله کولو، تل به مې په جوته ليدل چې د لنين مـل ملګري – پلخانف، مارتف، آکســلرود او نور – په هر څه کې له لنينه ټيټ دي او د هغوی سره په پرتله کې لنين يوازې يو له رهبرانو څخه نه ؤ بلکه د عالي سطحې او لومړي ډګر رهبر دی، يو غرنی باز دی چې په مبارزه کې خپل ځانته ويره نه راپرېږدي او په ډېره زړورتيا ســره ګوند د روســيې د انقلابي غورځنـګ د نه موندل شــويو لارو له لارې مخکې هدايت کوي. دغه تاثير زما په روح کې په دومره کچې ژوره ريښــه کړې وه چې لازمـه مې وبللـه چې پـه دې اړه د خپلو نږدې ملګرو څخه يوه ته يې چې هغه مهال په مهاجرت کې ؤ ليک وليکم او د ده نظريه وپوښـتم. يو څه وخت وروسته، کله چې سايبريا ته تبعيد شـوی وم او –دغه د ۱۹۰۳ کال په پای کې وه –د خپل ملګري له خوښۍ ډک ځواب او د لنين يو ســاده خو له معنی ډک ليک مي ترلاســه کړو او څرنګه چې معلومـه شــوه زما ملګري هغه د ليک له مضــمونه خبر کړی ؤ. د لنين ليک دومره مفصــل نه ؤ، خو زموږ د ګوند په کـاري طرز باندې د شــجاعانه انتقادونو درلودونکی ؤ او په نږدې راتلونکي کې يې د ګوند د کارونو ټوله نقشــه په ډېره روښـانتيا او لنډه توګه تشـريح کوله. يوازې لنين ؤ چې کولئ

يې شــول د تر ټولو پېچلو قضـــايو پـه اړه دا ډول ســاده او ســوچه، لنډ او شــجاعانه يو څه وليکي – پدې توگه چې له هرې جملې يې د خبرو پر ځـای اور وؤريږي. دغـه کوچني ســاده او شــجاعانه ليک له مخکې څخه نوره هم زياته ماته ثابته کړه، چې لنين زموږ د گوند غرنی باز دی. نشـم کولای، پـه دې خـاطر خپل ځان وبښــم، چې د لنين دغه ليک ما د نورو ډېرو ليکونو پـه شـــان، د گونـد د نورو پخوانيو پټو کـارکوونکو پـه څېر د اور خوراک کړ. لـه دغه وخته د لنين سره زما آشنايي پيل شوه.

# عاجزي

ما له لنين سـره د لومړي ځل لپاره د ۱۹۰۵ کال د دســمبر پـه مياشـــت کې په تامرفرس (په فنلنډ کې) ملاقات وکړو. زه هيلـه منـد وم چې زموږ د گونـد غرنی بـاز د يو داســې لوی سړي په شکل کې وگورم چې نه يوازې له سياسي نقطه نظره بلکـه، که رښــتيا غواړئ، له جســماني لحاظه هم لوی وي، ځکه چې لنين زما په تصـــور کې د يو ســـتر، خوش اندامه، پرتمين او مجلل سـړي په څير کښل شوی وؤ. څومره حيران

شـــوم کلـه مې چې کـاملاً يو معمولي کس له متوســـط حد څخه په ټيټې ونې سـره وليدو چې هيڅکله او مطلقاً هيڅکله يې، لـه يوه معمولي فـاني کيـدونکي انســـان ســـره توپير نـه درلود...

دود ده، چې يو ((لوی شخصيت)) معمولاً بايد جلسې ته نـاوخته حاضـــر شـــي تر څو د جلســـې غړي په فوق العاده ناکرارۍ ســـره د ده د راڅرگنديدو منتظر وي او ضـــمناً د يو ((لوی شـخصـيت)) له را څرگنديدو مخکې د جلسـې غړي يو او بـل متوجـه کوي: ((آی...غلي شـــئ....راغلو)). زما په نظر کې دغه تشـــريفات غير ضـــروري نه راتلل، ځکه د يوې ښـــې اغيزې لرونکي دي او د احترام حس پيدا کوي. څومره حيران شـوم کله چې پوه شوم چې لنين له نماينده گانو څخه مخکې جلسـې ته حاضـر شوی او د سالون په يوه څنډه کې يې ځـای نيولئ وو او د کنفرانس لـه تر ټولو عـادي نمـاينده گـانو ســـره يـه معمولي توگـه په ډېره ســـاده ژبه په خبر اترو بوخت دی. له تاسو څه پټه، په هغه وخت کې دغه کار ما ته له ځينو قواعدو څخه سرغړونه په نظر راغله.

يوازې په وروسـتيو کې پوه شوم، چې د لنين دغه سادگي او عاجزي، په ځان نه ښـــودلو کې دغه هڅه او يا په هر حال

ډېر جلب نظر نه کول او خپل لوړ مقام نورو ته نه ښــودل – هغه عادت دی چې دنویو خلگو، د بشــر د "لاندینیو" پراخو طبقاتو ســاده او معمولي خلگو لپاره د یو نوي رهبر په توگه، د لنین له قوي ترینو ځانگړنو څخه ده.

# د منطق ځواک

د اوسنئ اوضـاع په هکله او د ارضـي مسئلې تر سرلیک لانـدې هغه دوه ویناوې چې لنین په دغه غونډه کې وړاندې کړې؛ ډیرې پـه زړه پورې وې، لـه بـده مرغـه چې دغه دوې ویناوې نه دي پاتې. دا ویناوې ډیرې الهام بخښــونکي وې چې د کنفرانس ټول غړي یې په ولولو راوســتل. د قانع کولو فوق العاده قوه، د اســتدلال ســادگي او ســوچه توب، لنډ او ټولو تـه حـل عبـارات، د تظـاهر نـه شــتون، د نمـایشـــي گنگسوونکو حرکاتو او له دبدبې و شان و شوکت څخه ډکو څرگنـدونو نه شــتون، چې په حاضــرینو کې د اغیزې لپاره پکـار وړل کیږي، دا ټول هغه ټکي وو چې د لنین وینا یې له معمولي ((پـارلمـاني)) وینـا کوونکو څخه په مثبته توگه جلا کوله.

خو هغه څه چې په هغه وخت کې یې زه د لنین مینه وال کړم د ده د ویناوؤ دغه اړخ نه وؤ. زه د لنین د ویناوؤ د منطق هغه پیاوړي ځواک مینه وال کړم چې که څه هم یو څه وچه ده خو په بدل کې یې اوریدونکي په ژور ډول نیسي او په تدریج سره یې محسوروي او بیا په اصطلاح پرته له کومې کمی او کاستۍ ټول د ځان تابع کوي. زه په همغه وخت کې د ډېرو نماینده گانو خبرې په یاد لرم، چې ویل یې: ((د لنین د ویناوؤ منطق یو ډول پیاوړي پنجې دي، چې تا د یوې بیاتۍ په څیر له هرې خوا رانیسي او د هغې له غیږې نشې خلاصیدائ: یا تسلیم شه، او یا هم یوې خامخا ماتې ته تیار شه)).

زه گومان کوم چې د لنین په ویناوؤ کې دغه ځانگړنه به د ده د وینا د فن تر ټولو پیاوړۍ اړخ وي.

# ویر او زاری نه کول

دوهم وار ما له لنین سره په ۱۹۰٦ کال کې په استکهلم کې زموږ د گوند په کنگره کې ملاقات وکړو. څرنگه چې پوهیږئ په دغه کنگره کې بلشویکان په اقلیت کې پاتې

شول او ماته يې وخوړه. هغه مهال د لومړي ځل لپاره وه چې ما لنین په مغلوب رول کې ليدو. ده، هغه مشـــرانو ته چې له ماتې وروسته وير او زارئ کوي او نا هیلي کیږي يوه ذره هم ورتـه والئ نـه درلود. برعکس، مـاتې –لنین د انرژی په يوې تونې بدل کړی ؤ چې د نويو مبارزو او راتلونکو بریاوؤ لپاره يې خپلو پلويـانو ته الهام وربښـــلؤ. زه د لنین له ماتې غبرږيږم. خو آيـا دا څـه رقم ماته وه؟ پکار ده چې د لنین مخالفین، د استکهلم د کنگرې فاتحین –پلخانف، آکسلرود، مارتف او نور وگورو: هغوی له رښـتينو فاتحينو سـره ډېر کم ورته والئ درلود. ځکه چې لنین د منشـــويزم څخه د خپلې بې رحمانه نیوکې پـه ترڅ کې، لکـه څرنگه چې په متل کې وايي، دوی تـه يې روغ ځـای پرينښــود. مـا ته ياد دي چې څرنگه موږ بلشـويک نماينده گان په يوه څنډه کې سـره راټول وو، لنین ته مو کتل او له ده مو مشوره غوښتله. د ځينو نماينده گانو په ويناوؤ کې د ســتړيا او خوابدئ نښــې ليدل کيدلې. ماته ياد دي چې څرنگـه لنین د دا ډول ويناوؤ په ځواب کې په نيښ لرونکي ژبه د شونډو لاندې وويل: (( ندبه او زارئ مه کوئ، ملگرو، بريا په يقيني توگه له موږ ســره ده، ځکه چې حق له موږ ســره دی)). د وير او زارئ کوونکو روښـانفکرانو څخه

نفرت، په خپل قوت ایمان، په بریا ایمان – دا هغه مطالب وو چې پـه همغـه وخـت کې لنین موږ ته یادؤل. دا حس کیدله چې د بلشـــویکـانو مـاتـه موقتي ده او دوی بـایـد پـه نږدې راتلونکي کې بریالي شي.

(( د مـاتې په وخت کې ویر او زارئ نه کول)) – د لنین په فعالیت کې دا هغه ځانګړنه ده چې له ده سره یې مرسته کوله چې هغه لښـــکر چې د وروســتۍ شــیبې پورې وفادار او په خپل قوت یې ایمان درلود؛ پخپل ځان را ټول کړي.

# نه مغرور کېدل

پـه بلـه کنګره کې، پـه ۱۹۰۷ کـال کې پـه لنـدن کې بلشــویکـان بریالي شـــول. هغه مهال د لومړي ځل لپاره وه، چې ما لنین په فاتح رول کې لیدو. بریا معمولاً د نورو مشرانو لپاره ګنګســتوب راوړي، دوی مغرور او ځان خوښـــونکي کوي. په دې ډول مواردو کې له بریا یو ډول خوشحالیږي او د غفلت په خوب کې ډوبیږي، خو لنین له دې ډول مشـــرانو ســـره یوه ذره ورتـه والئ هم نه درلود. بلکه، برعکس هغه له بریا وروسته په ځانګړي توګه هوښیار او محتاط کیدلو. ټولو

تــه یاد دي چې لنین په همغه وخت کې د چین نماینده ګانو تــه پــه ټینګــار ســـره ویل: (( په لومړي پړاو کې – باید د بریا مجذوب نشـو او د بریا د لاسـته راوړو له امله مغرور نشـو؛ په دوهم پړاو کې –بـایـد د خپـل ځـان لپـاره بریـا پیاوړي کړو؛ دریم – دښمن په پرېکنده توګه له پښو وغورځوو، ځکه چې هغه یوازې ماته خوړلې خو تر اوسـه لا په بشپړه توګه له پښو نـه دی غورځیدلئ.)) ده په نېښ لرونکو جملو ســـره په هغو نمـاینده ګانو خندل چې بېباکانه ډاډمنتوب یې څرګندولو او ویل یې (( له اوس نه وروسـته نور نو دې منشویکانو حساب پاک دی)). ده ته سخته نه وه چې ثابته کړي چې منشویکان تر اوسـه هم په کارګري غورځنګ کې ریښه لري او له دوی سـره باید په بشپړ تدبیر سره مبارزه وشي او خپلو قوتونو ته د هر ډول ارزښت ورکولو او د حریف قوتونو ته د بې ارزښتئ ورکولو څخه مخنیوئ وشي.

((لـه بریـالیتوب بـایـد مغرور نشـــوو)) – دا د لنین هغـه اخلاقي ځانګړنه وه چې له ده ســـره یې مرســـته وکړه چې په هوښیارانه توګه د دښمنانو ځواک تر څېړنې لاندې ونیسي او ګوند له ممکنو نه اټکل کیدونکو پیښو څخه وژغوري.

# اصولي توب

د ګوند مشـــران نشـــي کولائ چې د ګوند د اکثریت غړو عقایدو ته اهمیت ورنه کړي. اکثریت – هغه ځواک دي چې یؤ مشـر نشي کولائ چې هغه ته ارزښت ورنه کړي. لنین هم په دې موضــوع د ګوند له نورو رهبرانو څخه کم نه پوهیده، خو لنین هیڅکلـه هم د اکثریت نه اســیر کیده، په ځانګړي ډول هغـه وخـت چې دا اکثریت پر اصــولي پایو نه ؤ ولاړ. زموږ د ګوند په تاریخ کې داسـې موارد مخې ته راغلل، چې د اکثریتو بـاور د ګونـد لـه ســملاســي ګټو او د پرولتاریا له اساسي ګټو سره ټکر کولو. په دغه شان مواردو کې لنین، بې له شـــکه، په هوډمندانه ډول له اصــولو څخه په پلویتوب، د ګوند د اکثریت پر ضـد را پورته کیدو. سـربیره پر دې، ده په دغه شان مواردو کې له دې ویره نه لرله، چې په ټوله معنی په یوازې ځان د ټولو پرضد اقدام وکړي، او د ده حساب – لکه څرنګـه چې وار - وار به یې په دې اړه ویل – دغه ؤ چې: (( اصولي سیاست یوازینی سم سیاست دی))،

په دې اړه په ځانګړي توګه لاندینی دوې پیښې د پام وړ دي:

اوله پېښــه: د ۱۹۰۹ – ۱۹۱۱ کالونو په دوره کې وه، هغه وخت چې گوند د انقلاب ضـد په لاس مات شـو او د پاشل کیـدو پـه حالـت کې وؤ. دغـه دوره، پـه گونـد بانديې د بې ایمـانی دوره وه، هغه دوره وه چې نه یوازې روښــنفکران په ټولیزه توگـه ، بلکـه تر یوې کچې کـارگران هم لـه گونـد تښــتیـدل، د مخفي کارونو د رد دوره، د انحلال غوښــتو او گډوډئ دوره وه. نه یوازې منشویکان بلکه بلشویکان هم په هغـه وخـت کې له یو لړ فراکســیونونواو جریانونو جوړیدل چې زیـاتره لـه کـارگري غورځنگه جلا وه. لکه څرنگه چې پوهیږو پـه همـدغـه دوره کې وه، چې پـه مکمـل ډول د مخفیتوب د له منځه وړلو او یو علني او لیبرال اســتولیپیني[۹] گونـد ته د – کارگرانو د ور داخلولو فکر را پیدا شـــو.په هغه وخـت کې لنین یوازینئ کس ؤ چې د دغـه ټول نیوونکي او ســـاري ناروغۍ په وړاندې یې مقاومت وکړ او د گوندیتوب بیرغ یې اوچت کړ، په داســـې حال کې چې د گوند تیت او پرکه ماته شــوي قوه یې په هیښــوونکي صــبر او زغم او بې مخینې ټینگـار راټولولـه او د کـارگري غورځنگ په دننه کې یې د ټولو او هر ډول گونـدي ضـــد بهیرونو پر ضـــد مبارزه

کوله او په بې مثاله زړورتوب او بې مخینې ټینګار او اصـــرار یې له ګوندیتوبه دفاع کوله.

لکه څرنګه چې پوهیږو د ګوندیتوب په لاره کې په دغه اړو دوړ کې وروسته لنین فاتح شو.

دوهمـه پېښـــه: د ۱۹۱۴ – ۱۹۱۷ کـالونو پـه دوره کې د امپریالیسـتي جګړې په منځ کې وه، کله چې ټول او یا تقریباً ټول سـوسـیال دموکرات او سوسیالیست ګوندونه په عمومي هېوادپالنې باندې مسـت شـول او د هیوادني امپریالیزم چوپړ تـه یې ملاوې وتړلې. دا هغه دوره وه چې دوهم بین الملل د سـرمایې په وړاندې خپل بیرغونه ټیټ کړي وو،هغه وخت ځ چې حتی داسـې کسان لکه پلخانف، کائوتسکي، ګد او نور هم د شونیزم د څپې په وړاندې په پښو پاتې نه شول. لنین په هغـه وخـت کې یوازینی او یـا تقریبـاً یوازینی کس ؤ چې د سـوسیال-شونیزم او سوسیال-پاسیفیزم پر وړاندې یې په یوې قطعي مبارزې لاس پورې او د ګدانو او کائوتسکیانو خیانت یې رســوا کولو او د دې ((انقلابیـانو)) پر څیره یې د دوی د بې ثبـاتۍ او دوه زړه توب لـه املـه بـاطـل داغ وهلو – لنین پوهیـدو چې د ده تر شـــاء یو ډېر کم اقلیـت دی، خو دغـه موضـــوع د ده لپاره د قطعي اهمیت درلودونکې نه وه، ځکه

چې دی پوهیدلو چې هغه یوازینی سم سیاست چې راتلونکی د هغه دی، ټینګ انترناسیونالیستي سیاست دی، ځکه دی پوهیدو چې اصولي سیاست یوازینۍ سم سیاست دی.

لکه څرنګه چې پوهیږو د نوي انترناسیونال سیاست په لاره کې په دغه اړو دوړ کې لنین فاتح راوؤتو.

((اصولي سیاست یوازینۍ سم سیاست دی)). – دا همغه فورمول دی چې لنین د هغه په مرسته په برید سره، نه "نیول کیدونکي" کلاګانې نیولي او د پرولتاریا تر ټولو غوره عناصر یې د انقلابي مارکسیزم لورې ته را کښل.

# پر خلګو ایمان

د ګوندونو تئوریسینان او مشران، چې د ملتونو له تاریخه خبر دي او د انقلابونو تاریخ یې له پیل څخه تر پایه پورې کتلۍ دی، کله- کله په یوې ناوړه ناروغۍ اخته وي. د دغه ناروغۍ نوم له خلګو څخه ډار او د خلګو په نوښتګري وړتیا ایمان نه لرل دي. په دې زمینه کې له مشرانو څخه یو ډول اشرافي توب د هغه خلګو په نسبت راڅرګندیږي، چې

**د لنین په اړه**

د انقلابونو لـه تاریخ څخه ناخبره دي، خو د زوړ د ماتولو او د نوي د راوســتلو لپاره رابلل شــوي دي. له دې څخه ویره چې ښایي، غورځنګ په خپل سر طوفان راولي او ممکنه ده چې خلګ (( ډېر هغه شیان چې باید مات یې نه کړي؛ مات کړي))، د یوې زړه ســوانـدي قـابلې د رول لوبولو ته تمایل چې هڅه کوي خلګو ته د کتاب له مخې درس ورکړي، خو مایل نه دي چې له هغوی زده کړه وکړي – همدا د دغه شان اشرافي توب اساس او بنسټ دی.

لنین کاملاً د دغه شــان مشــرانو په مقابل طرف کې ؤ. زه کوم بل انقلابي نه پېژنم چې د پرولتاریا په نوښتګر ځواک او د هغې پـه انقلابي وړتیـا او طبقاتي غریزې باندې دې د لنین پـه څېر دومره ژور ایمـان ولري. زه کوم بـل انقلابي نـه پېژنم چې وکولای شــي د ((انقلاب د اړو دوړ)) او ((د خلقو د ناوړه او خپل سـرو کړنو)) له ځانه راضي منونکي دې د لنین پـه څېر بې دریغـه وټکوي. مـا ته یاد دي چې څرنګه لنین د یوې وینـا پـه ترڅ کې د دې په اړه د یوه ملګري د یادؤنې په ځواب کې چې ((له انقلاب وروســته باید عادي نظم ټینګ شــي)) په خندنۍ ژبه یاده کړه، چې: ((د بدمرغۍ ځای دی که چیرې هغه کســان چې هیله لري چې انقلابي وي؛ دا هېر

کړي چې په تـاریخ کې تر ټولو عادي نظم هماغه د انقلاب نظم دی)).

ټولو هغو کســانو ته د لنین بې اعتنایي چې هڅه یې کوله چې خلقو تـه له پاســه وګوري او هغوی ته د کتاب له مخې درس ورکړي له همدې ځایه ده. د لنین همیشــنی نصــیحت یعنې لـه خلګو څخـه زده کړه، د هغوی د کړو وړو بیخ تـه رســیدل او د خلقو د مبارزې د عملي تجربې دقیقه څیړنه – له همدې ځایه سرچینه اخلي.

د خلګو پر نوښــتګر ځواک ایمـان – دا د لنین د فعالیت هغـه ځـانګړنـه ده چې ده تـه یې امکـان ورکړی دی، چې د پخپل سـر منځته راغلي غورځنګ بیخ ته ورسـیږي او هغه د پرولتاریایي انقلاب لارې ته هدایت کړي.

# د انقلاب نابغه

لنین د انقلاب لپـاره زیږیدلئ ؤ. دی په ریښــتیني توګه د انقلاب د انفجـارونو نـابغـه او د انقلابي رهبرئ تر ټولو ســتر اســتـاد ؤ. ده هیڅکله هم ځان دومره آزاد او خوشــحال نه احســاســولو لکه څومره یې چې د انقلابي ټکانونو په وخت

کې حس کولو. دلته زما موخه هيڅکله هم دا نه ده چې هر انقلابي ټکان په يو شان د لنين خوښ ؤه، يا دی تل او په هر ډول شـرايطو کې د انقلابي چاودنو پلوي ؤ. هيڅکله هم نه، په دغه مورد کې زما موخه يوازې دا ده، چې د لنين ناڅاپي ځيرکتوب هيڅکله هم د انقلابي چاودنو د وخت په څير ټول او واضح نه را څرګنديدو. د انقلابي بدلون په ورځو کې، دی په ټوله معنی غوړيدو، روښان بين کيدو، د طبقاتي جنبش او د انقلاب احتمالي کړليچونه يې مخکې له مخکې اټکلول، تا به ويل لکه دا ټول چې د خپل لاس په ورغوي کې ګوري. بې ځايه نه ده چې زموږ په ګوندي محافلو کې ويل کيږي ((ايليچ کولائ شي، چې د انقلاب په څپو کې داسي لامبو ووهي، لکه کب په اوبو کې)).

د لنين د انقلابي نقشو د تاکتيکي شعارونو حيرانوونکئ وضاحت او هيښوونکئ زړورتوب له همدې ځايه دي.

دوې ډيرې د پام وړ پيښې راته يادې دي چې د لنين همدغه خصوصيت ته ځانګړي دي.

لومړئ پيښه: د اکتبر انقلاب د دورې په درشل کې وه، کله چې مليونونو کارګرانو، بزګرانو او سرتيرو د جبهې د شاء او د جبهې د کړکيچ په پايله کې ستومانه او د سولې او

آزادۍ غوښتونکي وه؛ کله چې د(( جګړه تر وروستۍ شیبې)) د ګټو له نظره د پوځ او بورژوازۍ مشران د یوې نظامي دیکتاتورۍ د تیارولو په تکل کې وو؛ کله چې په اصطلاح ټول ((عمومي افکار))، ټول په اصطلاح((سوسیالیست ګوندونه)) د بلشویکانو پرضد ولاړ وو او هغوی یې(( آلماني جاسوسان)) بلل؛ کله چې کرنسکي هڅه کوله چې د بلشویکانو ګوند په زوره د مخفي وضعیت منلو ته ته اړ باسي –او تر یوې اندازې په دغه کړنه کې بریالۍ شوی ؤ - ؛ کله چې د آلمان او اتریش د ائتلاف لښکرې چې لاهم پیاوړې او با انظباطه وې زموږ د ستومانه او پاشل شوو لښکرو پر وړاندې یې ځای نیولی وؤ، او د لویدیځې اروپا د هېوادونو سوسیالیستانو په ارامه او ډاډه زړه له خپلو دولتونو سره د(( جګړه تر پوره بریالیتوب پورې)) لپاره ائتلاف کړی ؤ.

نو په داسې یوه شیبه کې د پاځون کولو معنی څه وه؟ په دغه شان شرایطو کې د پاڅون کولو معنی دا وه، چې ټوله شتمني او هستي ګټلو او یا بایللو ته کیښودل شي، خو لنین ویره نه درلوده چې خطر په غاړه واخلي، ځکه چې دی پوهیدو او په خپل تېز نظر یې لیدل چې پاڅون هرو مرو

کیږي، پاڅون به بریالئ کیږي، پاڅون به په روسیه کې د امپریالیستي جګړې د پای ته رسیدو لومړني څرکونه تیاروي، په روسیه کې قیام د غرب کړیدلي خلګ په خوځښت راولي، په روسیه کې پاڅون امپریالیستي جګړه په داخلي جګړې بدلوي، پاڅون د شوراګانو جمهوریت را منځته کوي، تر څو د شوراګانو جمهوریت به په ټوله نړۍ کې د انقلابي غورځنګ تکیه وګرځي.

لکه څرنګه چې پوهیږو د لنین دغه انقلابي وړاندوینه وروسته په بې مثاله دقت سره په رښتیا بدله شوه.

دوهمه پېښه: د اکتوبر انقلاب وروسته په لومړیو ورځو کې وه، کله چې د ملي کمیساریانو شورا هڅه کوله، چې مجرم جنرال سرقوماندان دوخونین د آلمانیانو سره د اوربند او د نظامي عملیاتو د درولو لپاره د خبرو اترو د دروازې خلاصولو ته اړ کړي. ما ته یاد دي، چې څرنګه لنین، کریلنکو (راتلونکئ سرقوماندان) او زه د دوخونین سره د مذاکرې لپاره په پتروګراد کې د لوی درستیزی د تلګراف مرکز ته لاړو. ډېره ناوړه شېبه وه. دوخونین او د سرقوماندان ستر درستیز د ملي کمیساریانو د شورا له امر منلو څخه په مطلق ډول سرغړونه وکړه. د پوځ قوماندانی ټوله د

سـرقوماندان له سـتر درسـتیز سـره وه، خو د سـرتیرو په اړه، معلومـه نـه وه چې(۱۲) ملیوني پوځ پـه اصــطلاح د پوځ د سازمانونو تابع، چې د شوروي حکومت پر وړاندې تحریک شــوی دی؛ کومـه لاره به ونیســي. لکه څرنګه چې پوهیږو خپلـه پـه پتروګراد کې هغـه وخـت یونکران د پـاڅون لپـاره تیاریدل، سـربیره پر هغه کرنسـکي په جګړې کولو - جګړې کولو ســره د پتروګراد پر لور را روان ؤ. ما تـه یاد دي، چې څرنګه د تلګراف په غوږۍ کې د یو لنډ ځنډ وروسته د لینن څیره پـه یوې غیرعـادي روښــنـایئ پـه ځلیدو شــوه. کاملاً څرګنـده وه، چې ده نو نوره پریکړه کړې ده. لنین وویـل: ((ځئ چې د رادیو مرکز ته ځو، دغه دسـتګاه به له موږ سـره مرســتـه وکړي: موږ د یو ځـانګړي فرمـان لـه مخې، جنرال دوخونین لیري کوو او د هغـه پر ځـای ملګرئ کریلنکو د ســرقومـانـدانی لپاره ټاکو او د قوماندانی پلاوي ته له توجه پرتـه نیغ پـه نیغـه ســرتیرو تـه پیغام اســتوو، تر څو جنرالان محـاصــره کړي، نظـامي عملیـات وځنـډوي، د جرمني او اتریش له سـرتیرو سـره اړیکه ونیسي او د سولې کار په خپل لاس کې واخلي)).

دا ((تیـارۍ تـه یو ټوپ ؤ)). خو لنین لـه دغـه ((ټوپ)) ویره نـه لرلـه، برعکس دی د هغـه مخې تـه ورتلو، ځکه دی پوهیدو چې پوځ د سـولې غوښتونکۍ دی او د سولې په لار کې د ټولو او هر ډول خنـډونو پـه لرې کولو سـره به هغه په لاس راوړي، ځکه پوهیدو چې د سـولې ټینگولو دغه شـان طریقه به د آلمان-اتریش د سرتیریو لپاره بې گټې پاتې نشي او بې له کومې اسـتثناء په ټولو جبهاتو کې د سـولې په لور تمایل ته پراختیا او انکشاف ورکوي.

لکـه څرنگـه چې پوهیږو وروسـتـه د لنین دغـه انقلابي وړاندوینه هم په بشپړ دقیق ډول په رښتیا بدله شوه.

ځیرکتوب، د پیښـیدونکو حوادثو په داخلي مفهوم باندې پوهیدل او د چټک درک لپاره وړتیا – دا د لنین هغه ځانگړنه ده چې له ده سـره یې مرسـته کوله تر څو د هغه تگلارې په هکلـه چې باید د انقلابي غورځنگ د کړلیچونو پر سـر یې نیولې وای؛ یوه سمه استراتیژي او روښانه کړنلاره وټاکي.

د ۱۹۲۴ کال د فبرورې په ۱۲ تاریخ د((پراودې)) ورځپاڼې په ۳۴ شمېره کې چاپ شوي.

ی.و.استالین.کلیات ٦ جلد، ۵۲-٦۴ ص

# لنین- د روسیې د کمونیست گوند لاربنود او مشر

دوه ډلې مارکسـیستان شتون لري. دواړه د مارکسیزم تر بیرغ لاندې کار کوي او په پوره ډول ځانونه مارکسـیستان گڼي. خو

دوی پـه هيڅ ډول يو بـل تـه ورته نه دي. سـربيره پر دې: يوه لويه درۀ هغوی سره بيلوي ځکه چې د دوی د کار لارې يو له بل سره په بشپړ ډول بيلې دي.

لومړی ډله معمولاً د مارکسيزم په ظاهري او تشريفاتي بڼه قناعت کوي،ځکه چې دوی نشـي کولای او يا نه غواړي چې د مارکسيزم په جوهر باندې پوه شي. دوی نشي کولای او يا نه غواړي چې هغه په رښتيني بڼه پلی کړي. دوی د مارکسيزم ژونـدي انقلابي اصـول پـه بې معنی او مړو فرمولونو بـدلوي. دوی خپـل کـار او فعـاليـت پـه تجربو او هغـه څـه باندې چې عملي کـار يې ور زده کوي نـه پيلوي. بلکـه يواځې د مارکس پر نقـل قول اتکـاء کوي. دوی خپـل دسـتورونـه او پـايلې د اوسنيو واقعيتونو له څيړنې څخه نه اخلي، بلکه د تاريخي ورته والي او مقـايسـو نه يې اخلي. د دغه ډلې بنسـټيزه ناروغي د خبرې او عمـل ترمنځ واټن دی. لـه برخليـک څخـه تلپـاتي ناراضـي او مايوسـي، هغه برخليک، چې په وار -وار دغه ډلې تـه خنـډونـه جوړوي او دوی ((شـرموي)) لـه همـدې ځايه سـرچينه اخلي. د دغه ډلې نوم –منشـويزم (په روسـيه کې)، اپورتونيزم(پـه اروپـا کې) دی. ملګري تيشـکو(يوګيخس) د لنـدن پـه کنګره کې[۳] د دې پـه ويلو سـره، چې دغـه ډلـه د

مارکسیزم پر لیدلوري ولاړه نه ده، بلکه له پاسه پرې پرته ده، په ډېره ښــه توگـه دغـه ډلـه تعریف کړه. دوهمه ډله،برعکس، د قضیو د ثقل مرکز د مارکسیزم له ظاهري منلو څخه په ژوندون کې د هغه د عملي کولو او اجراء پړاو ته انتقالوي. د مارکسـیزم د عملي کولو د داسې طریقو او وسـایلو تعیین چې له وضـعې سـره مناسـب وي، د دغه طریقو او وسایلو تغیر کله چې وضعه تغیر وکړي – دا هغـه ټکي دي چې دغه ډله ورته ډېره توجه او پـام کوي. دغـه ډلـه خپـل دســتورونـه او تعلیمـات د محیطي شــرایطو لـه مطـالعې کولو اخلي، نـه د تـاریخي ورتـه والي او مقـایســو څخه. د دوی د فعالیت بنســټ پر نقل قول او لنډو کلمو نه دی ولاړ، بلکه پر عملي تجربو ولاړ دی. دوی د خپل هر قدم سموالی په تجربو سره تر څېړنې لاندې نیسي. له خپلو تېروتنو څخـه زده کړه کوي او نورو تـه د یوه نوي ژونـدانـه جوړول ور زده کوي. او لـه همـدې امله ده چې د دغه ډلې په فعـالیـت کې خبرې د عمل ســره مخالفې نه دي او د مارکس لارښــوونې هم پـه خپـل ټول ژوندي او انقلابي ځواک ســره ساتل کیږي. د مارکس هغه وینا، چې له مخې یې مارکسیستان یوازې د نړۍ پر تفسـیر بسـنه نشـي کولی او باید چې یو قدم وړاندې لاړ شي او هغې ته بدلون ورکړي؛ کاملاً د دغه ډلې په

باب صدق کوي. د دغه ډلې نوم – بلشويزم،کمونيزم دی او د دغه ډلې لارښود او مشر و.ای.لنين دی.

## ۱ – لنين د روسيې د کمونست گوند د لارښود په توگه:-

په روســيه کې د پرولتاريا د گوند جوړيدلو په ځانگړي شرايطو کې جريان درلود، چې د لويديځ له شرايطو سره يې د کارگر گوند د جوړيدو په وخت کې توپير لرلو. په لويديځ يعنې فرانســې او جرمنې کې کارگر گوند له اتحاديو څخه منځته راغلو او دا په داســې شــرايطو کې ؤ چې د اتحاديو او گوندونو شــته والي ته اجازه وه. بورژوازي انقلاب ســرته رســيدلی وو او بورژوازي پارلمان موجود وو، بورژوازی خپل ځان قدرت ته رســولی وو او د پرولتاريا پر وړاندې يې ځای نيولی وو – خو برعکس په روســيه کې بيا د پرولتاريا د گوند جوړيدل د اســتبداد په ډېرو ســختو شــرايطو او د بورژوا دموکراتيک انقلاب په درشـل کې پيښ شول، کله چې، له يوه طرفه گوندي تشــکيلات له بورژوازي عناصــرو((علني

مارکیستانو)) ډکیدل، هغوی دې ته ناست وه، چې د بورژوازي انقلاب لپاره لـه کـارگرانو څخه اســتفاده وکړي او له بلې خوا تزاري ژانـدارمیـانو بهترین گونـدي کـدرونـه د گونـد لـه لیکو بهرول، پـداســې حـال کې چې د انقلابي غورځنـگ ودې په خپله له انقلابي کسـانو د یوې نه تسـلیمیدونکي، یو له بله سـره تړلي او په بشــپړه توگه مخفي او مبارزي هســتې د شــتون اړتیا پیښــولـه، چې د دې توان ولري، تر څو غورځنگ ته د مطلقه حکومت د راپرځولو پر لور لارښووني وکړي.

هغـه مهـال، دنـده دا وه، چې لـه وزو څخـه مېږي جلا کړل شي، د پردیو عناصرو څخه واټن ونیول شي، په هر ځای کې د تکړه او مجربو انقلابیانو تشـکیلات جوړ شي، دوی ته غښتلی تاکتیک او واضـحه کړنلاره ورکول شــي او بالاخره د حرفه یي انقلابیـانو پـه یوه واحـد مبارز ســازمان کې دغه کدرونه راټول کړل شـــي، چې په لازمه اندازه پټ وي، تر څو د ژاندارمیانو د حملو پر وړانـدې ودریږي او پـه همـدې حـال کې پـه لازمـه اندازه له خلکو ســره اړیکې ولري، تر څو د اړتیا په وخت کې هغوی مبارزې ته سوق کړي.

منشــویکانو یا هماغه کســان چې د مارکســیزم پر لیدلوري پاس ((ناســت دي))، مسـئله یې ډېره ســاده حل کوله: ځرنگه

چې پـه لويديځ کې کارگر گوند له غير گوندي اتحاديو چې د کارگرې طبقې د اقتصـادي وضـعې د ښـه والي په لار کې يې مبارزه کوله څخه منځته راغلی دی؛ نو اړينه ده چې په روســيه کې هم څومره چې شـوني ده همدا عمل سرته ورسوؤ. يعنې د اوس لپـاره يوازې په هر ځای کې ((له کارفرمايانو او حکومت سره د کارگرانو پر اقتصادي مبارزې باندې بسنه وشي)) پرته له دې چې د ټولې روسـيې لپاره يو جنگيدونکی سازمان رامنځته شــي او بيا دې دا وشــي...او بيا دې هغه......، که تر هغه وخته کومې اتحـاديې منځتـه نـه وې راغلي، نو هغـه وخـت بايد يوه غير گونـدي کـارگري کنگره راوغواړو او هغـه د گوند په توگه اعلان کړو.

په هغه وخت کې منشـويکانو او ښايي ډېر شمير بلشويکانو په سختي سره اټکلوله، چې د منشويکانو دغه ((مارکسيستي)) ((نقشه))، سربيره پر دې چې د روسيې د چاپېريال لپاره تخيلي ده، په عين حال کې پراخ پروپاگندي کارونه هم له ځانه ســره لري، چې د گونـديتوب د نظريې د ټيټيـدو، د گوندي کدرونو د لـه منځه وړلو، له خپل گوند څخه د پرولتاريا محرومولو او د ليبرالانو په خوله کې د کارگري طبقې د اچولو لامل گرځي.

د روسيې پرولتاريا او گوند ته يې د لنين تر ټولو ستر خدمت دا دی. چې د منشـويکي تشکيلاتي((نقشې)) ټول خطر يې له همـاغـه لحظې چې دا نقشـــه لا د جوړيدو په حال کې وه؛ او خپله د دغه ((نقشـــې)) خاوندانو هم په ســـختۍ ســره کولای شــول، چې د هغې مشــخص خطوط په خپل نظر کې مجســم کړي؛ ښـــکـاره کړ او د هغـه له ښـــکاره کولو وروســـته يې، د منشـويکانو د تشـکيلاتي خپلسرۍ پرضد بې امانه او بې دريغه مبـارزه پيـل، او د عمـل کونکو ټول پام يې په همدې مســـئلې متمرکز کړ. ځکه چې موضـوع د گوند د موجوديت پر سـر او د گوند د ژوند او مړينې پر سر وه.

د گوندي قوتونو د تمرکز د مرکز په توگه، د ټولې روســـيې لپاره د يوې سياسي ورځپاڼې جوړول، په بيلابيلو ځايونو کې د گونـد د ((منظمو برخو)) پـه توگـه د کلکو او ټينـگ هوډه گونـدي کـدرونو تشـــکيل، د ورځپاڼې له لارې په يوه واحده مجموعـه کې د دغـه کـدرونو راټولول او د ټولې روســـيې پـه مبـارز گونـد کې پـه يوه روښـــانـه کړنلاره، ټينـگ او پيـاوړي تاکتيک او واحدي ارادې ســـره د دوی يوځای کيدل، دا هغه نقشـــه وه، چې لنين په خپلو مشـــهورو رســـالو کې: ((څه بايد وکړو؟)) ، ((يو گـام مخکې،دوه گامه شـــاته)) هغې ته پراختيا

ورکړې. د دغه نقشــې وړوالی او کره والی په دې کې وو، چې له روســـي واقعیت ســـره یې کاملاً مطابقت درلود او د بهترینو ګوندي غړو تشـکیلاتي آزمایښت یې په استادانه توګه خلاصه کولو. د دغه نقشې لپاره په مبارزه کې، اکثریت روسي ګوندي غړي په قطعي توګه په لنین پسې لاړل، پرته له دې چې حتی له انشعابه هم مخ واړوي. د دغه نقشې بریالیتوب سره یو ځای یو تړلی او ډېر کلک کمونیسـت ګوند رامنځته شو، چې نړۍ هغه ته ورته بل ګوند نه دی لیدلی.

او ځرنګـه زموږ ملګرو (یوازې منشـــویکـان نه!) په لنین دا تور پورې کولو، چې د جوړجـاړي کونکو او نورو ســـره اړو دوړ، انشـــعـاب او پریکون او نـه پخلاکیدونکي مبارزې ته له حد څخه زیات میلان لري. له شـــک پرته چې هم دې او هم هغې پـه خپـل وخـت کې شـــتون درلودلی دی، خو پـه دې موضـــوع باندې پوهیدل ســـخت نه دي، چې که زموږ ګوند له خپلو لیکو څخه غیر پرولتاریایي او اپورتونیست عناصر نه وای شړلي؛ په دې نه توانېده، چې د داخلي کمزورتیا او ابهام له بند څخه خلاص شـــي او نه توانیده چې هغه قوت او کلکوالي ته چې په ذات کې یې دی لاســـرســـی پیدا کړي. د بورژوازی د قدرت او اربابی په دوران کې د پرولتاریا د ګوند وده او پیاوړتیا

یوازې د هغه مبارزې په اندازې پورې تړلې ده، چې دغه گوند یې د اپورتونستو، انقلابي ضد او گوندي ضد عناصرو پر ضد په خپل او د کارگرې طبقې په محیط کې سرته رسوي. لاسال حق درلود کله چې به ویل یې: (( گوند د خپل ځان په چاڼتوب او تصفیې سره ټینگښت مومي )). تور لگوونکو معمولاً د آلمان گوند تر استناد لاندې نیولو چې په هغه وخت کې د ((یووالي)) امر په هغه کې رونق درلود. خو اولاً هر یووالئ د قدرت نښانه نه ده او دوهم بسنه کوي، چې اوس د آلمان پخواني گوند ته چې شړېدلی او په دریو گوندونو[۴] ویشل شوی دی؛ نظر واچول شي، تر څو د لیبکنخت او لوکزامبورگ سره د شیدمان او نوسکه د ((یووالي)) د باطلتوب او پوچتوب په درجې وپوهېږو. او بیا له کومه معلومه ده، چې که د آلمان د گوند انقلابي عناصر په وخت او موقع د دغه گوند له انقلابي ضد عناصرو څخه بیل شوي وای د آلمان د پرولتاریا لپاره بهتره نه وه.....نه، لنین زر واره حق درلود، چې گوند یې د گوندي ضد او انقلابي ضد عناصرو پرضد د نه پخلاکیدنکي مبارزې لارې ته بېولي وای او یوازې د دغه تشکیلاتي سیاست پایله وه، چې زموږ گوند وتوانېده چې هغه داخلي یووالئ او یو له بل سره حیرانوونکی تړلتوب په خپل

ځان کې رامنځته کړي، چې د هغه په لړلو سره د کرنسکي د حکومت په وخت کې د جولای له کړکېچه[۵] بې له کوم زیانه راوؤت،د اکتوبر پاڅون یې په خپل ځان باندي وزغملو،د برست لیتوفسک[۶] د دورې بحران یې بې له کوم تزلزله تېر کړ، پر آنتانت باندې د بریا لاملونه یې تیار کړل او بالاخره هغه د انعطاف هغه بې مثاله وړتیا یې په لاس راوړه، چې د هغې په رڼا کې کولئ شي، هره شیبه په خپلو صفوفو کې بدلون راولي او خپل سلګونه زره غړي د هر ډول ستر کار لپاره متمرکز کړي، پرته له دې چې په چاپیریال کې یې کومه بې نظمي او اړو دوړ را منځته شوي وي.

## ۲ – لنین د روسیې د کمونیست ګوند د مشر په توګه:

خو د روسیې د کمونیست ګوند تشکیلاتي ګټې یوازې د مسئلې یو اړخ څرګندوي. که د ګوند د سیاسي کارونو بڼه، د هغه کړنلاره او تاکتیک له روسي واقعیت سره جوړ نه وای؛ که د هغه شعارونو د کارګرانو ټولې نه وای خوځولي او انقلابي غورځنګ یې مخته نه وای کش کړئ، ګوند نشول کولی چې

په دومره تېزی سره وده وکړي او کلک شي. د مسئلې د دغه اړخ په اړه بحث کوؤ.

د روسيې بورژوا-دموکراتیک انقلاب(۱۹۰۵کال) په داسې شرایطو کې جریان درلود چې د انقلابي پېښو په وخت کې د لویدیځ له شرایطو، د بیلگې په ډول فرانسې او آلمان سره یې ډېر توپیر درلود. په غرب کې انقلاب، د مانوفاکتور په دوره کې هغه مهال پېښ شو چې طبقاتي مبارزې تکامل نه ؤ موندلی، هغه وخت چې پرولتاریا کم شمېره او ناتوانه وه، خپل ځانته یې کوم داسې گوند نه لرلو چې د هغې د غوښتنو په تنظیم وتوانېږي او بورژوازي په کافي اندازې د هغه انقلابي اړخ درلودونکې وه، چې وکړای شي د ځان په طرف د کارگرانو او بزگرانو ډاډ او باور را وگرځوي او دوی د اریستوکراسی پر ضد د جگړې ډگر ته راولي،په روسیه کې برعکس، د (۱۹۰۵) کال انقلاب د ماشین او د طبقاتي مبارزې د تکامل په زمانه کې یعنې هغه وخت پیل شو، چې د روسيې پرولتاریا چې نسبي کمیت یې ډېر او سرمایه داری هم هغه راغونډ کړي وه او هغه ته یې یو له بل سره تړاو ورکړی وؤ، نور یې نو له بورژوازی سره جنگونه کړي ول او خپل ځانته یې داسې گوند درلود، چې د بورژوازی تر گوند ډېر سره متحد

وؤ. خپل ځانته طبقاتي غوښتنې يې لرلې، په داسې حال کې چې روسی بورژوازي، چې اصولاً ژوند يې هم د حکومتي سفارشاتو له لارې تیریدو، دومره د پرولتاریا له انقلابي روحه ډاره شوي وه، چې د کارگرانو او بزگرانو پر ضد له دولت او ملاکانو سره د یووالي په لټه کې وه. دغه واقعیت چې د روسي انقلاب اور د منچوري په میدان کې د جنگي بریا د نشتون په پایله کې بل شو؛ یوازې د پېښو د جریان د گړندي کیدو سبب ؤ پرته له دې چې په هممهاله توگه سره، د چارو ماهیت ته بدلون ورکړي.

دا د حالت غوښتنه وه، چې د انقلاب په راس کې پرولتاریا واقع شي، انقلابي بزگران پر خپل ځان راټول کړي او د خپلو طبقاتي گټو د تضمین او د هېواد د بشپړ دموکراتیک کولو په نوم په یوه وخت کې د تزاریزم او بورژوازی پر ضد، په یوه پریکنده مبارزه لاس پورې کړي.

خو منشویکانو، یعنې هغه کسان چې د مارکسیزم پر لیدلوري ((پاس ناست دي)) مسئله يې له خپل نظر سره سمه حل کړه: دا چې د روسیې انقلاب بورژوازي دی او په بورژوازي انقلاب کې رهبري د بورژوازی له نماینده گانو سره ده(د فرانسې او آلمان د انقلاب ((تاریخ)) ته دې مراجعه

وشي)، نو پرولتاریا نشي کولئ، چې د روسیې د انقلاب واکمنه وي، رهبري بایـد د روســیې بورژوازی تـه (هماغه بورژوازي چې له انقلاب سـره خیانت کوي) پریښـودل شـي، بزگران هم بـاید د بورژوازئ په واک کې ورکړل شـــي او ښــه دا ده چې پرولتاریا د یو بشپړ کینې اپوزیسیون په مقام کې پاتې شي.

او د دې بـدو لیبرالانو دا ناوړه ســندرې هم منشــویکانو د ((اصلي)) مارکسیزم د وروستي کلام په توگه ښودلې!

د روســیې د انقلاب په حق کې د لنین تر ټولو لوی خدمت دا دی، چې د منشــویکـانو د دغـه تـاریخي ورتـه جوړونو پوچتوب او عبـث والئ او د منشــویکي ((ډوله انقلاب)) ټول خطر یې چې د کـارگرانو گټې یې د بورژوازی پـه خولـه کې ورکولې؛ له بیخه رســوا او وښـــود. د بورژوازي دیکتاتورئ پر ځـای د پرولتاریا او بزگرانو دموکراتیکه انقلابي دیکتاتوري، د بولیگین د دوما[۷] د مجلس تحریمول او د دوما په مجلس کې د گډون پرځای وسله وال پاڅون او په هغه کې پرله پسې کار، پس له هغه چې د دوما مجلس په هر ډول چې وو؛ جوړ شـــو د((کینې ائتلاف)) نظریـه او پـه کادتي کابینه کې د گډون او له دوما د ارتجاعي ((ســاتني)) پرځای له دوما څخه بهر مبارزې لپاره د دوما له تریبیونه استفاده، د کادت د گوند پر ضد مبارزه

چې یوه ضـد انقلابي ځواک وو، د هغه سره د ائتلاف پر ځای – دا هغه تاکتیکي نقشـه ده چې لنین په خپلو مشـهورو رسـالو: ((دوه تـاکتیکـه)) او (( د کـادتیـانو بریـالیتوب)) کې هغې تـه پراختیا ورکړې ده. د دغه نقشـــې وړتوب او غوره والئ په دې کې ؤ چې پـه روســیه کې د **بورژوا – دموکراتیک** انقلاب په عصـــر کې د پرولتاریا د طبقاتي غوښـــتنو په واضـــح او قاطع تنظیم یې ، سـوسـیالیستي مرحلې ته د انقلاب د انتقال آسانولو او د **پرولتاریا د دیکتاتورئ** نظریه یې په ځان کې لرله. د دغه تاکتیکي نقشـې لپاره په مبارزه کې، د روسیې ډیری او اکثریت گونـدي غړي پـه ټینگ او نه گرځیدونکي هوډ په لنین پســې روان شــول. د دغه نقشـــې بریا د هغه انقلابي تاکتیک بنســټ کیښــود، چې د هغـه پـه رڼـا کې اوس زموږ گونـد د نړیوال امپریالیزم پایې په لړزه راوستلي دي.

د پیښـو راتلونکي پراختیا، څلور کلنه امپریالیسـتي جگړه او د ټول ملي اقتصـــاد تزلزل، د فبروري انقلاب او مشـــهور دوه گونی حـاکمـه قـدرت، موقـت حکومـت د انقلاب پر ضـــد د بورژوازئ د مرکز په توگه او د پتربورگ شــوراگاني د پرولتاریا دیکتاتورئ د لومړني شــکل په توگه، د مؤســـســـانو د مجلس

گډوډول او د اکتوبر انقلاب، د بورژوازي پارلمانتاریزم منحل کول او د شوراگانو د جمهوریت اعلانول، په داخلي جگړې د امپریالیستي جگړې بدلول او د پرولتاریایي انقلاب پرضد د نړیوال امپریالیزم تیری د یوازې په خوله((مارکسیستانو)) په ملتیا او بالاخره د منشویکانو مایوسونکئ او د زړه سوي وړ موقعیت، چې د مؤسسانو په مجلس نښتي وه او پرولتاریا هغوی لـه بیړۍ سمندر تـه وغورځول او د انقلاب په څپې د سرمایه داری سواحلو ته رسیدل - دغه ټول یوازې د هغه انقلابي تاکتیک د اصولو سموالئ ثابتوي، چې لنین په((دوه تاکتیکه))کې بیان کړي دي. هغه گوند چې یو دغه شان میراث یې پـه لاس کې لرلو، د سمندر د تـل د کمرو او تیږو څخه لـه کومې ویرې پرته یې کولی شول چې خپله بیړۍ په زړورتیا سره وړاندې وچلوي.

زموږ پـه دوره کې چې د پرولتاریایي انقلاب دوره ده، کله چې د گوند هر شعار او د هغه د مشر هره جمله په عمل کې ځیړل کیږي، پرولتاریا له خپل مشر څخه ځانگړي غوښتنې لري. تاریخ، د پرولتاریا ځینې مشران لیدلي، د طوفاني دورو مشران، د اهل عمل مشران، له ځان څخه تېر او زړور، خو د تئوری له لحاظه کمزوري. خلګ د دغه مشرانو نوم دومره ژر

نـه هیروي. د دوی لـه جملې ځینې یې دا دي مثلاً: پـه آلمـان کې لاســال او پـه فرانســه کې بلانکي. خو پـه ټولـه کې ټول غورځنـګ نشــي کولی چې یوازې پـه خـاطراتو ژوندی پاتي شــي: د هغـه لپـاره یوه روښــانـه موخه(کړنلاره) او یوه ټینګه تګلاره(تاکتیک) اړین دي.

د مشـرانو یو بل ډول هم شتون لري، دوی د سولې د وخت مشــران دي چې پـه تئوری کې قوي دي، خو په تشــکیلاتي چـارو او عملي کارونو کې ضــعیف دي. دغه شــان مشــران یوازې د پرولتـاریـا په پورتني قشــر کې د یو عمومي شــهرت لرونکي دي او هغـه هم د یو معین وخـت لپـاره؛ د انقلاب د عصــر پـه رارســیـدلو، کله چې له مشــر څخه عملي انقلابي شـعارونه غوښتل کیږي، تئوریسینان له صحنې بهر ځي او نوي کســانو ته ځای ورکوي. د دې جملې څخه د مثال په ډول: په روسیه کې پلخانف او په آلمان کې کائوتسکي.

د دې لپـاره چې د پرولتـاریا د انقلاب او د پرولتاریا د ګوند د مشــرۍ مقـام وســاتـل شــي، بـایـد تئوریـک ځواک او د پرولتاریایي غورځنګ عملي او تشکیلاتي تجربه په خپل ځان کې را ټوله کړو او ویې لرو. پ.آکسـلرود، کله چې مارکسیت وؤ، د لنین په اړه یې ولیکل چې هغه ((په ډېره غوره توګه د یوه

نومیالي عمل کوونکي په شان، د تجربې سره – سره، تئوریکي معلومات او پراخ ســیاســي لید، په ځان کې را ټول کړي او د هغو خاوند دی)) (د "روسیې سوسیال-دموکراتانو دندې" تر عنوان لاندې د لنین په رساله کې دې د پ،آکسلرود د کتاب سریزې ته دي رجوع وشي). سخته نه ده چې اټکل وکړو، ښاغلی آکسلرود دا د نننۍ ((متمدنې)) سرمایه داری ایدئولوګ به نن د لنین په اړه څه ووایي. خو زموږ لپاره چې لنین له نږدې څخه پیژنو او قادر یو چې چارو ته له عیني نظره وګورو؛ هیڅ ډول شک نه پاتي کیږي، چې لنین دغه پخوانی عادت په پوره ډول ساتلی دی. او ضمناً باید د دغه واقعیت توضیح چې لنین، او په ریښتیني تو ګه خپله دی، نن په نړۍ کې د پرولتاریا د تر ټولو پیاوړي او کلک ګوند مشر دی، په همدې مسئله کې ولټوو.

د ۱۹۲۰ د اپریل په ۲۳ تاریخ د ((پراودې)) ورځپاڼې په (۸٦) شمېره کې چاپ شوي.

ی.و.استالین. کلیات ۴ جلد، ۳۰۵ – ۳۱۵ ص

## توضيحات:

**۳- د لندن کنګره** – دلته موخه د روسيې د سوسيال دموکرات کارګري ګوند پنځمه کنګره ده. چې د ۱۹۰۷ کال د اپريل له ۳۰ د مۍ تر ۱۹ په لندن کې روانه وه.

**۴- درې ګوندونه** – دلته موخه هغه درې ګوندونه دي چې د آلمان د پخواني سوسيال دموکراسي ګوند له انشعاب وروسته جوړ شول: سوسيال دموکرات ګوند، خپلواک سوسيال دموکرات ګوند او د آلمان کمونيست ګوند.

**۵- د کرنسکي د حکومت په وخت کې د جولائ کړکيچ** – د دغه کړکيچ سبب په پتروګراد کې د ۱۹۱۷ کال د جولائ ۳-۴ ورځو پيښې وې. په دې ورځو کې د کارګرانو او سرتيرو ځينې خپل سري نمايشونه د شوراګانو په لاس د حکومت انتقالولو په شعار سره ترسره شول. د دغه نمايشونو د مسالمت آميزتوب سره سره، د بورژوازئ موقت حکومت، چې س . ر کرنسکي د هغه په سر کې ؤ د نمايش ورکوونکو پر ضد يې لښکريان وليږل او د نمايش له ټکولو وروسته يې د بلشويکانو په ځارلو پيل وکړ او د بلشويکانو مرکزي ارګان ((پراودا)) ورځپاڼه يې ونيوله او د لنين د نيولو حکم يې صادر کړ. لنين مجبور شو چې پټ شي. موقتي حکومت د بلشويک ګوند ځينې نومیالي فعالين بنديان کړل او په ځينو نورو انقلابي ضد کړنو يې هم لاس پورې کړ. اما ګوند د

**ی.و.استالین**

لنین او استالین تر رهبرئ لاندې وکړای شول چې په ډېرو سختو شرایطو کې،د ۱۹۱۷ کال د اکتوبر د پرولتاریایي انقلاب مقدمات تیار کړي.

**٦- د برست لیتوفسک دوره** – دلته موخه د برست د سولې دوره ده. د شوروي ځوان حکومت چې لا پوره نه ؤ ټینګ شوی اړ شو چې یو لوټمارانه قرارداد چې د امپریالیستي آلمان او متفقینو-اتریش،هنګري، ترکیه،بلغارستان- له لوري یې وربانددې تپل شوی ؤ د ۱۹۱۸ کال د مارچ په دریمه په برست لیتوفسک کې لاسلیک کړي. د ۱۹۱۸ کال په نوامبر کې د امپراطوري آلمان له سقوط وروسته، د برست د سولې قرارداد د شوروي حکومت له لوري لغوه شو.

**۷- د بولیګین دوما** – یعنې د نماینده ګانو د مشاورې مجلس چې په ۱۹۰۵ کال کې تزاري حکومت د هغه د جوړولو قصد درلود. د دولتي مشاورتي دوما په جوړولو او د دوما د انتخاباتو په کړنلارې پورې د تړلي قانون طرحه د وخت د داخله چارو وزیر بولیګن تر مشرۍ لاندې کمیسیون له خوا تدوین شوه او د تزار د ۱۹۰۵ کال د آګست د شپږمې نېټې په بیانیه کې خپره شوه. بلشویکانو د بولیګین دوما په جدي توګه سره تحریم کړه «... د بولیګین دوما هیڅکله هم جوړه نه شوه، د انقلاب طوفان مخکې له دې چې د بولیګین دوما جوړه شي؛ هغه له منځه یووړه.» (و.ای.لنین،کلیات،۱۹ جلد ۳۵۲ ص)

**۸- «ایسکرا»** - د ۱۹۰۰ کال د دسامبر په ۱۱ د لنین له خوا تاسیس شوه او د ټولې روسیې د انقلابي مارکسیستانو لومړنۍ ورځپاڼه وه. «ایسکرا» په بهر کې چاپ کیدله او په پټه توګه په روسیه کې خپریدله. لنیني «ایسکرې» په ۱۹۰۳- ۱۹۰۰ کالونو کې د روسیې د پرولتاریا د خپلواک ګوند د تیارولو او جوړولو په کار کې ډېر ستر رول ولوباوه. «ایسکرا» د روسیې د کارګري سوسیال دموکرات ګوند له دوهمې کنګرې وروسته د منشویکانو لاسته ورغله( له ۵۲ شمېرې). د پخوانۍ لنیني «ایسکرا» د مشخص کولو لپاره یې، منشویکي «ایسکرا» «نوي ایسکرا» بلله.

## د لنين په اړه

**۹- استوليپيني گوند** – ( **يا کارگر استوليپيني گوند** ) – دا هغه نوم ؤ چې د ارتجاع په دوران کې يې چې د ۱۹۰۵ کال د انقلاب له ماتې وروسته په روسيه کې واکمنه وه، د ملنډو په ډول يې انحلال غوښتونکو منشـويکانو ته ورکولو چې دا نصـيحتونه يې کول چې بايد د پرولتاريا له پټ انقلابي گوند څخه لاس واخلو او يو «علني» گوند جوړ کړو چې د اســتوليپيني د رژيم پـه څلورو ديوالونو کې کـار وکړي ( اســتوليپيني د وخت د وزيرانو شورا د رئيس نوم وؤ )

**ی.و.استالین**

# د لنین د مړینې په مناسبت

## د ټول شوروي اتحاد د شوراګانو په دوهمه کنګره کې وینا [1]

## د ۱۹۲۴ کال د جنورۍ۲٦

ملګرو! موږ،کمونستان د ځانګړي بڼې خلک یو. موږ له ځانګړو موادو څخه تراشل شوي یو. هغه څوک یو چې د پرولتاریا د ستر سردار لښکر، د ملګري لنین لښکر جوړۀ. هیڅ ویاړ په دغه لښکر پورې له تړاؤ څخه پورته نه دی. هیڅ ویاړ د هغه ګوند د غړیتوب له درلودلو څخه چې بنسټ ایښودونکی او رهبر یې ملګری لنین دی لوړ نه دی. هر

څوک د داسې يو ګوند د غړيتوب وړتيا نه لري. هر څوک د دغـه ګوند په غړيتوب پورې تړلي مصـــيبتونه او طوفانونه نه شـــي زغملای. د کارګرې طبقې زامن، د مبارزې زامن د بې پايه ســـختيو او قهرمانانه هڅو زامن – دوی هغه کســـان دي چې له ټولو وړاندې بايد د دغه شـــان يو ګوند غړي شـــي. له همدې امله ده چې د لنينســـتانو ګوند، د کمونســـتانو ګوند په عين وخت کې د کارګرې طبقې ګوند هم نومول کيږي.

**کله چې ملګری لنين له موږ څخه تللو موږ ته يې وصـــيـت وکړ، چې د ګونـد د غړيتوب ســـتر نوم اوچـت او پـاک وســـاتو. ملګری لنين،تا ته قســـم يادوؤ،چې موږ به ستا دغه وصيت په شرافت سره سرته ورسوؤ!..**

ملګري لنين پوره(۲۵)کـاله زموږ د ګوند پالنه وکړه او هغه يې پـه نړۍ کې تر ټولو غښـــتلی او کلـک کـارګري ګونـد راوروزلو. د تزاريزم او د جلادانو ګوذارونـه، د بورژوازی او ملاکـانو ظلم، د کلچـاک او دنيکين وســـلـه وال بريـدونه، د انګلستان او فرانسې وسله واله مداخله، د بورژوازی د يو سر او ســـل ژبو رســـنيو دروغونـه او تور لګوني – دا ټول ټګمار

لږمـان د پیړۍ د یوې ربعې پـه جریان کې په پرله پســـې توګه زموږ د ګوند پر سر راورېدل، خو زموږ ګوند د یوه غر په شان پر خپل ځای ولاړ وو، د دښــمن بې شــمیره ګوذارونه یې دفع او کـارګره طبقـه یې وړانـدې، د بریـالیتوب لور ته بیوله. زموږ ګوند د خپلو صفوفو یووالی او وحدت په خورا سختو جګړو کې کلک او غښتلی کړی دی. په یووالي او یو له بل سره تړاو ســـره وه، چې زموږ ګوند د کارګرې طبقې پر دښـــمنانو بری وموند.

**کله چې ملګری لنین له موږ څخه تللو موږ ته یې وصیت وکړ، چې د ګوند یووالی د سترګې د کسي په څېر وساتو. تا ته قسم یادوؤ، ملګری لنین، چې ستا دا وصیت به هم په شرافت سره تر سره کړو!..**

کارګره طبقه سخت او نه زغمل کېدونکی برخلیک لري. د زیار ایسـتونکو مصـیبتونه دردناک او د زغم وړ نه دي. غلامان او د غلامانو څښـتنان، سـرفان او د سـرفانو څښـتنان، بزګران او ملاکان، کارګران او سـرمایه داران، سـتمکشان او ستمګران،- د نړۍ جوړښـــت له پېړیو راهیســـې په همدې حالت کې دی او همـدا حـالت اوس هم په مطلق اکثریت هیوادو کې پاتې دی.

زیار ایستونکو د پیړیو - پیړیو راهیسې لسګونه او سلګونه واره هڅه کړې ده، چې خپله ملا د ستمګرانو له فشار څخه خلاصه کړي او خپله د خپل حالت د ټاکلو خاوندان شي. خو هر وار مغلوب او بدنام شوي او شاتګ ته اړ کړل شوي دي او په داسې حال کې چې رنځ، کړاو، ذلت، کینې او افسوس ته یې په خپل زړه کې ځای ورکړی وو؛ سترګې یې په یوه نامعلوم اسمان کې ښخې کړي دي،چې هیله مند وو چې له هغه ځایه کومه د ژغورنې لاره ومومي. د غلامۍ ځنځیرونه همیشه لاس نه خوړلي پاتې کیدل یا دا چې زاړه ځنځیرونه په نویو ځنځیرونو بدلیدل، چې په هماغه اندازه نه زغمل کیدونکي او د ذلته ډک وؤ. یوازې زموږ په هېواد کې وه، چې زیارایستونکي او له پښو غورځیدلي زیار ایستونکي خلک وتوانیدل چې له خپلو اوږو د ملاکانو او سرمایه دارانو د واکدارۍ بار وغورځوي او پر ځای یې د کارګرانو او بزګرانو واکداري راولي. ملګرو، تاسو پوهیږئ او اوس ټوله نړۍ په دې موضوع اقرار کوي، چې دغه ستره مبارزه ملګري لنین او د ده ګوند رهبري کړه. د لنین عظمت له ټولو مخکې په همدې کې دی، چې د شوروي جمهوریت په جوړولو یې، عملاً د ټولې نړۍ تر ستم لاندې خلکو ته وښودله، چې د خلاصون هیله له منځه

تللې نـه ده، د ملاکانو او ســـرمايه دارانو واکداري دوام نشـــي کولی، کولی شو د کار سلطنت د زيار ايستونکو په خپل قوت رامنځته کړو او د کار ســـلطنت بايد په ځمکه کې رامنځته کړو نـه پـه آســـمان کې. پدې توگه، ده، د ټولې نړۍ د کارگرانو او بزگرانو پـه زړونو کې د اميـد او آزادی اور بـل کړ. دا حقيقـت چې د لنين نوم د اســـتثماريدونکو او زيارکښـــو خلکو لپاره په ټولو نومونو کې محبوب او خوږ دی، له همدې ځايه ســـرچينه اخلي.

**کله چې ملگری لنين له موږ څخه تللو موږ ته يې وصـيت وکړ، چې د پرولتاريا ديکتاتوري غښـتلې کړو او ويې وساتو. ملگری لنين، تا ته قسم يادوؤ، چې له خپل ځواک څخه به هيڅ ونه ســپموؤ، تر څو ستا دا وصيت هم په شرافت سره ترسره کړو!..**

زموږ پـه هېواد کې د پرولتـاريـا ديکتـاتوري د کـارگرانو او بزگرانو د يووالي پر بنســـټ را منځته شـــوه. دا د شـــوراگانو د جمهوريـت لومړنۍ بنســـټيزه پايه ده. له دغه يووالي څخه پرته شونې نه وه، چې کارگران او بزگران پر سرمايه دارانو او ملاکانو بـانـدي برى ومومي. کـارگرانو د بزگرانو د ملاتړ پرتـه نشـــول

کولای چې ســـرمـايـه دارانو ته ماته ورکړي. بزگرانو نه شـــول کولای چې د کـارگرانو د رهبرۍ پرته ملاکانو ته ماتې ورکړي. زموږ د هيواد د داخلي جگړې ټول تـاريخ د همـدې حقيقـت شـاهد دی. خو د شـوراگانو د جمهوريت د غښـتلتوب لپاره د مبـارزې پـای تـه لا ډېر څـه پـاتې دي، دغه مبارزې يوازې يو نوی شـــکـل ځانته نيولی. پخوا د کارگرانو او بزگرانو يووالي د نظامي يووالي شـــکل درلود، ځکه چې دغه يووالی د کلچاک او دنيکين پر خلاف متوجـه وؤ. اوس د کـارگرانو او بزگرانو ترمنځ يووالی بايد د ښار او کلي ترمنځ او د کارگرانو او بزگرانو ترمنځ د اقتصـــادي همکارۍ شـــکل ځانته واخلي، ځکه چې دغه يووالی د تاجر او کولاک پر خلاف متوجه دی، او هدف يې د کـارگرانو او بزگرانو د ټولو متقـابلو اړتيـاوو تـامينول دي. تـاســـو پوهيږئ چې هيڅـا هم د ملگري لنين پـه اندازه د دغه دندې په سرته رسولو کې ټينگار نه کولو.

**کله چې ملگری لنين له موږ څخه تللو موږ ته يې وصـيت وکړ چې په ټول توان سـره د کارگرانو او بزگرانو يووالی غښـــتلی کړو. ملگری لنين، تـا تـه**

**ی.و.استالین**

## قسم یادوؤ، چې ستا دا وصیت به هم په شرافت سره سرته ورسوؤ!..

د شوراگانو د جمهوریت دوهمه بنسټیزه پایه زموږ د هېواد د ملیتونو د زیار ایستونکو یووالی دی. روسیان، اکراینیان، باشقیریان او بلاروسیان، گرجیان او آذربایجانیان، ارمنیان او داغستانیان، تاتاریان او قرغیزیان، ازبکان او ترکمنان، دوی ټول په برابره توگه د پرولتاریا د دیکتاتوری د ټینگښت او غښتلتوب غوښتونکي او مینوال دي. یوازي د پرولتاریا دیکتاتوري نه ده، چې دغه ملتونه له ځنځیرونو او ظلمه ژغوري، بلکه دغه ملتونه هم د شوراگانو د جمهوریت سره په ډیر صداقت او صمیمیت سره سرښندنې ته تیار دي، تر څو زموږ شوروي جمهوریت د کارگرې طبقې د دښمنانو له دسیسو او لاسوهنو څخه په امن کې وساتي. له همدې امله ده، چې ملگري لنین زموږ د هېواد د ملتونو ترمنځ د داوطلبأنه یووالي اړتیا او د جمهوریتونو په قالب کې د ورورگلوی په اساس د هغوی د گډې همکاری اړتیا په نه ستړې کیدونکې توگه موږ ته یادوله.

**کله چې ملګری لنین له موږ څخه تللو موږ ته یې وصیت وکړ، چې د جمهوریتونو یووالی کلک کړو او پراختیا ورکړو. ملګری لنین، تا ته قسم یادوؤ، چې ستا دغه وصیت به هم په شرافت سره ترسره کړو!..**

د پرولتاریا د دیکتاتورۍ دریمه پایه، زموږ سور پوځ او سره بحري قوه ده. لنین په وار - وار موږ ته ویل، چې هغه ساه چې موږ یې اوس د سرمایه داري هیوادونو څخه په آرامه کاږو؛ شوني ده چې لنډمهالې وي. لنین په وار - وار موږ ته یادونه کوله، چې د سره پوځ غښتلتیا او د هغه د حالت ښه کول زموږ د ګوند د دندو له ډلې یوه ډېره اړینه دنده ده. د کرزن د پېښو په ختمېدو او د آلمان بحران[۲] پوري تړلو پېښو یو وار بیا ثابته کړه چې بیاهم حق د تل په څېر د لنین پر خوا وؤ. **نو قسم اخلو، ملګرو، چې موږ به د سره پوځ او سور سمندري ځواک د غښتلتیا لپاره له خپل وس او توان څخه هیڅ هم ونه سپموؤ.**

زموږ هېواد چې د بورژوازي هېوادو په سمندر کې را ایسار شوی د یوه لوی کمرۀ په شان پر پښو ولاړ دی. څپې یوه په بله

پسې پرې راځي او هغه د سولېدو او ډوبیدو له خطر سره مخ کوي. خو دا کمر تر اوســه هم پر خپل ځای ټینګ ولاړ پاتې دی. د هغه قوت په څه کې دی؟ د هغه قوت یواځې په دې کې نه دی، چې زموږ هېواد د کارګرانو او بزګرانو پر یووالي ولاړ دی او د آزادو ملیتونو د یووالي تجسم دی او د سره پوځ او سرې سمندري قوې ځواکمن لاس له هغه څخه ساتنه کوي. زموږ د هېواد قوت، پیاوړتیا او استحکام په دې کې دهی، چې د ټولې نړۍ د کارګرانو او بزګرانو په زړونو کې زموږ د هیواد سره یو ژور د خواخوږی حس او ټینګ ملاتړ شتون لري. د ټولې نړۍ کارګران او بزګران غواړي، چې د شوراګانو جمهوریت د هغه غشي په توګه چې د ملګري لنین د حقاني لاس څخه د دښمنانو پر لوري ویشتل شوی او د ظلم او استثمار له بار څخه د خلاصون لپاره د خپلو هیلو د ملاتړي په توګه او دیوه رښتیني لارښوونکي په توګه، چې دوی ته د خلاصون لاره ورښیي –وساتل شي. دوی غواړي چې له هغه څخه ساتنه وکړي او پرې به نږدي چې ملاکان او سرمایه داران یې ړنګ کړي. زموږ قوت په همدې کې دی. د ټولې نړۍ د زیار ایستونکو ځواک په همدې کې دی او د ټولې نړۍ د بورژوازی کمزورتیا هم په همدې کې ده.

لنين هيڅکله هم د شـــوراګانو جمهوريت ته د وروســـتۍ موخې پـه توګـه نـه کتـل. ده، تل هغه ته په لويديځو او ختيځو هېوادونو کې د انقلابي جنبش د تقويـت لپـاره د يوې اړينې کړۍ په توګه او پر پانګه باندې د ټولې نړۍ د زيار ايستونکو د بريـا د آســـانی لپـاره د يوې اړينې کړۍ پـه توګـه کتـل. لنين پوهيده چې يوازې دا ډول پوهول دي، چې نه يوازې له نړيوال ليدلوري، بلکه خپله د شـــوروي جمهوريت د بقاء له ليدلوري هم سـم دي. لنين پوهيدو، چې يوازې له دې لارې کولی شـو چې د ټولې نړۍ د زيـارايســـتونکو زړونه د آزادۍ په لاره کې قطعي مبـارزو تـه را وپـاروو. لـه همـدې املـه وه چې،ده – د پرولتارياوؤ په نابغه مشـرانو کې نابغه، د پرولتاريا د ديکتاتورۍ په هماغه سـهار د کارګرانو د انترناسـيونال بنســټ کېښــود. له همدې امله وه چې، ده د ټولې نړۍ د زيارايســـتونکو د يووالي يعنې کمونيسـت انترناسيونال په پراختيا او غښتلتيا کې ستړيا نه لرله.

تـاســـو پـه دې ورځو کې وليـدل چې څرنګـه لســـګونه او ســـلګونـه زره زيـارکښـــان د ملګري لنين د تـابوت زيارت ته راتلل. ډېر کم وخت وروسته به تاسو ووينی، چې څرنګه به د مليونونو زيارکښـانو استازي د ملګري لنين د آرام ځای زيارت

ته راشي. کولی شئ چې پوره باور ولری چې په دغه استازیو پسې، وروسته د ټول عالم د گوټ گوټ د لسگونو او سلگونو ملیونو کسانو استازیو سیلاب به رامخې ته شي او د دې شاهدي به ورکړي چې لنین یوازې د روسیې د پرولتاریا مشر، یوازې د اروپا د کارگرانو مشر، یوازې د استعمار شوي ختیځ مشر نه؛ بلکه د ځمکې د کرې د ټولو زیارکښانو مشر هم وؤ.

**کله چې ملگری لنین له موږ څخه تللو موږ ته یې وصیت وکړ، چې کمونیست انټرناسیونال ته وفادار واوؤسو. ملگری لنین،تا ته قسم یادوؤ، چې موږ به خپل ځان هم ونه سپموؤ، تر څو دټولې نړی د زیارایستونکو یووالی یعنې کمونیست انترناسیونال پیاوړی شي او پراختیا وموومي!..**

د ۱۹۲۴ کال د جنوری په ۳۰ نېټه د ((پراودې)) ورځپاڼې په ۲۳مه شمېره کې چاپ شوي.

ی.و.استالین – ٦ جلد، کلیات ۵۱ – ۴٦ ص

## توضيحات:

**۱- د ټول شـــوروي اتحاد د شـــوراگانو دوهمه کنگره**- د ۱۹۲۴ کال د جنورۍ له ۲۶ نېټې د فبرورۍ تر دوهمې په مسـکو کې روانه وه. دکنگرې په لومړنۍ غونډه کې چې د و.اې.لنين يـاد ته ځانگړې شــوې وه، ی.و.اســتالين يوه وينا وکړه او په هغې کې يې د بلشـويک گوند له لوري يوه باعظمته لوړه وکړه چې د لنين وصـيتونه ياد ته وسپارل شي او عملي شـــي. کنگرې د لنين د مړينې پـه مناســبت د ((زيار ايســتونکي بشـــريت ته خطاب)) بيانيه صـــادره کړه او د لنين د نوم د تل پاتې کولو لپاره يې پريکړه وکړه چې د لنين د آثارو کليات چاپ او خپاره کړي، د پتروگراد د ښـــار نوم لنين گراد ته واړوي، د لنين د مړينې ورځ د عمومي ماتم ورځ اعلان کړي، د مسـکو د ښار په سره ميدان کې د لنين لپـاره آرام ځـای جوړ کړي او د متحـدو جمهوريتونو پـه پلازمينو او همـدارنگه په لنين گراد کې د لنين مجسـمه ولگول شي. کنگرې، د شوروي حکومت د عملياتو راپور او د شـوروي اتحاد په بودجې او د کرنې د مرکزي بانک په جوړولو پورې تړلي مسـائل تر بحث او څېړنې لاندې ونيول.

د جنورۍ په **۳۱** کنگرې د شـوروي اتحاد لومړنۍ اسـاسي قانون چې د ی.و.استالين تر رهبرۍ لاندې جوړ شــوی ؤ تصــويب کړ. کنگرې مرکزي اجرائيه کميټه او د اتحاد شورا او د مليتونو شورا وټاکله. ی.و. استالين د اتحاد شورا د غړيتوب لپاره وټاکل شو.

**۲- د آلمان کړکيچ** – دلته موخه د آلمان ۱۹۲۳ کال اقتصـادي او سـياسـي کړکيچ دی. پـه هغـه وخت کې د انقلابي خلقي غورځنگ لمن په هېواد کې پراخه شـــوه او په پايله کې يې په ســاکســون او تورينگ کې کارگري حکومت جوړ شـو او په هامبورگ کې وسـله وال پاڅون وشـو. په آلمان کې د انقلابي غورځنگ له ټکولو وروسته په ټوله اروپا کې د بورژوازي ارتجاع ســختي او همدارنگه د شــوروي جمهوريت پرضــد د يو نوي وسله وال تيري خطر نور هم زيات شو.